هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۰) ماه ذوالقعدة الحرام ۱٤٤٦ هـ ق. مطابق ماه ثور ۱٤۰٤ هـ ش.

**تعلیم و تربیه یگانه راه اصلاح و پیشرفت کشور است.**

## د پوهنې وزارت سرپرست هېواد ته د راستنو شوو کډوالو زده کوونکو د آزموینې له بهیر څخه لیدنه وکړه



هېواد تـه د راسـتنو شـوو کډوالـو لـه ماشـومانو د تعلیمـي کچـې معلومولـو پـه موخـه د آزموینـې اخیسـتلو پـه لـړ کـې د کابـل ښـار پوهنـې ریاسـت هېـواد تـه د ۲۷۰ تنـه راسـتانه شـوو زده کوونکـو څخـه آزموینـه واخیسـته چـې د آزموینـې لـه بهیـر څخـه د پوهنـې وزارت سرپرسـت الحـاج مولـوي حبیـب اللـه آغـا هـم لیدنـه وکـړه.
پـه همـدې مناسـبت جـوړه شـوې غونـډه کـې، د پوهنـې وزارت سرپرسـت...

۲مخ

### گذاشتن سنگ تهداب یک باب مکتب در غزنی از سوی سرپرست وزارت معارف

الحـاج مولـوی حبیـب اللـه آغـا سرپرسـت وزارت معـارف در حالـی کـه از سـوی رئیـس، مسـئولان و شـماری از علمـای کـرام و اسـتادان مشـایعت مـی شـد، بـه ولسـوالی جاغـوری ولایـت غزنـی تشـریف بـرده و سـنگ بنـای مکتـب صالحـی را گذاشـت.
تعمیـر مذکـور کـه قـرار اسـت بـه هزینـه ۱۳ میلیـون افغانـی از مسـاعدت هـای مردمـی اعمـار گـردد، دارای تمامـی ملحقـات ضـروری آن بـوده و بـرای صدهـا متعلـم محیـط امـن تعلیمـی را فراهـم می‌سـازد.
سرپرسـت وزارت معـارف در سـخنانی ضمـن قدردانـی از حمایـت مـردم از نظـام معـارف، بـر ارزش تعلیـم و تربیـه صحبـت نمـوده و اعمـار مـدارس و مکاتـب را در زمینـه پیشـرفت آینـده کشـور، گام مهـم تلقـی نمـود.
هـم چنـان رئیـس معـارف ولایـت غزنـی نیـز این اقـدام را نمونـه مشـهود همـکاری و همبسـتگی میـان وزارت معـارف و...

۲مخ

### امضای سند انتقال ۳۰ جریب زمین از وزارت زراعت و آبیاری به وزارت معارف

در نشسـتی کـه مولـوی سـمیع الحـق حمـاس رئیـس حفـظ و مراقبـت تعمیـرات وزارت معـارف بـا مولـوی سـید محمـد سـعید رئیـس انتقـال و توزیـع زمیـن ریاسـت عمومـی اراضـی وزارت زراعـت و آبیـاری داشـت، طرفیـن در محوریـت همـکاری هـای متقابـل هـر دو وزارت بـا هـم گفتگـو و تبـادل نظـر نمودنـد.
در ایـن دیـدار بـه اسـاس حکـم مقـام عالـی رهبـری امـارت اسـلامی افغانسـتان مبنـی بـر انتقـال ده جریـب زمیـن بـرای سـاخت مدرسـه دینـی در ولایـت بدخشـان و ۲۰ جریـب زمیـن دیگـر درمرکـز ولایـت غزنـی بـه هـدف سـاخت یـک بـاب دارالعلـوم وقـف گردیـد کـه جانبیـن اسـناد انتقـال زمیـن هـای متذکـره را امضـاء نمودنـد.
بالمقابـل رئیـس حفـظ و مراقبـت تعمیـرات وزارت معـارف از بابـت زمیـن هـای یـاد شـده، از رهبـری وزارت زراعـت و آبیـاری اظهـار قدر دانـی نمـوده و بـه تـداوم همـکاری مذکـور تأکیـد نمـود.

### از ۶۰۰ هموطن برگشته به کشور امتحان تثبیت سویه اخذ گردید



ریاسـت معـارف شـهر کابـل بـه منظـور فراهـم سـازی زمینـه آمـوزش بـرای هموطنـان برگشـته از کشـورهای مختلـف بـه کشـور از ۶۰۰ هموطـن مهاجـر کـه بـه تـازه گـی از کشـور هـای همسـایه بـه کشوربازگشـته بودند امتحـان تثبیـت سـویه اخـذ کـرد.
در مراسـم کـه بـه همیـن مناسـبت برگـزار شـده بـود الحـاج مولـوی سـخاءالله سـعید معیـن تعلیـم و تربیـه و کفیـل وزارت معـارف، قـاری عبدالباسـط حقانـی رئیـس معـارف شـهر کابـل، شـماری از مسـئولان، اسـتادان و شـاگردان اشـتراک داشـتند.
در آغـاز مراسـم، رئیـس معـارف شـهر کابـل ضمـن خوش آمدگو یـی...

ص۲

### د پوهنې وزارت مشرتابه پلاوي په اروپايي هېوادونو کې د مېشتو افغانانو له استازو سره وکتل

د پوهنـې وزارت مشـرتابه پـلاوي د یـوې غونـډې پـه تـرڅ کـې پـه اروپایـي هېوادونـو کـې د مېشـتو افغانانـو لـه اسـتازو سـره ولیـدل او ورسـره یـې د پوهنـې اړونـدو مسـایلو پـه تـړاو هراړخیـز بحـث وکـړ.
پـه پیـل کـې د پوهنـې وزارت د ښـووونې او روزنـې معیـن الحـاج مولـوي سـخاء اللـه سـعید، یـاد وزارت تـه د ۱۴ کسیز پـلاوي لـه راتـګ هرکلـی وکـړ او د دوی دغـه سـفر یـې د پوهنیـز نظـام د لا پیاوړتیـا لپـاره مهـم وبالـه.
وروسـته د پوهنـې وزارت د سـرچینو او اداري معیـن الحـاج مولـوي صبغـت اللـه وصیـل هـم د پـلاوي د نظرونـو او وړاندیزونـو پـه تـړاو څرګنـده کـړه: ننګونـې بایـد پـه فرصتونـو بدلـې شـي او د هېـواد بچیانـو روښـانه راتلونکـې او د ښـوونې او روزنـې د لا پراختیـا پـه موخـه پـه ګـډه کار ترسـره شـي.
دغـه راز د پوهنـې وزارت د کیفیـت تضمیـن معیـن الحـاج مولـوي عبدالخالـق صـادق پـه خپلـه وینـا کـې پـلاوي تـه ډاډ ورکـړ چـې د پوهنـې وزارت بـه پـه هېـواد کـې د پوهنـې د ودې او لا پرمختـګ لپـاره هېـڅ ډول هڅـې ونـه سـپموي او د پـلاوي نظرونـه او وړاندیزونـه بـه د افغانسـتان اسـلامي امـارت لـه مشـرتابه سـره شـریک کـړي.

### در این شماره

د ښوونې او روزنې په برخه کې د ښوونکو مسئولیتونه — صفحه ۲
اسلام آوردن بلال حبشی رضی الله تعالی عنه و تحمل مشکلات و مصائب — مخ ۳
اهل معارف — صفحه ۳

### د اسلامي زده کړو معین لخوا په میدان وردګ کې د یو محراب جومات د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د پوهنـې وزارت د اسـلامي زده کـړو معیـن الحـاج مولـوی کرامـت اللـه آخنـدزاده میـدان وردګ ولایـت تـه د خپـل سـفر پرمهـال د علماءکرامـو، قومـي مشـرانو، مخـورو شـخصیتونو او سـیمه ییزو اوسـېدونکو پـه ګـډون د چـک ولسـوالۍ اړونـد جامعـة الجهـاد دینـي مدرسـې پـه انګـر کـې د یـو محـراب جومـات د بنسـټ ډبـره کېښـوده.
پـه پـام کـې ده چـې پورتـه ذکـر شـوی جومـات بـه پـه یـو وخـت کـې لـه زرو څخـه زیاتـو لمونځ کوونکـو ظرفیـت ولـري او یـاد جومـات بـه د ځایـي اوسـېدونکو پـه مالـي ملاتـړ جـوړ شـي.
د اسـلامي زده کـړو معیـن د یـاد جومـات د بنسـټ ډبـرې اېښـودلو پـه مراسـمو کـې څرګنـده کـړه: "مـوږ هڅـه کـوو چـې د زده کـړې او عبـادت لپـاره ځانګـړې معیـاري چاپېریـال رامنځتـه کـړو، تـر څـو راتلونکـي نسـلونه وکولـی شـي د حقیقـت، عدالـت، تقـوا او اخـلاص مشـعلونه پـه خپلـو منځـو کـې روښـانه وسـاتي."
د یادونـې وړ ده، چـې د پوهنـې وزارت دغـه ګام د اسـلامي مقدسـاتو د سـاتنې، پالنـې او د تعلیمـي مرکزونـو د لاپراختیـا پـه برخـه کـې د اړونـدو فعالیتونـو څرګنـده نښـه ده.

سرلیکنه

# د ښوونې او روزنې په برخه کې د ښوونکو مسئولیتونه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَيِّدِالمُرسَلَینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجمَعِین.

ښوونه او روزنه یو له هغه مهمو ارکانو څخه ده چې د هرې ټولنې پراختیا او پرمختګ ورسره تړاو لري. ښوونکي، چې د علمي ارزښتونو استازیتوب کوي، باید یوازې د درس ورکول نه، بلکې د زده کوونکو په شخصیت جوړونه، ټولنیزو اړیکو او رواني ملاتړ کې هم پراخه او ارزښتناکه ونډه ولري. په دې توګه، د ښوونکو مسئولیت یوازې د علمي روزنې پورې محدود نه دی، بلکې د زده کوونکو هر اړخیز پرمختګ کې پراخه ونډه لري.

د استاذانو او ښوونکو لومړنی مسئولیت د علمي روزنې په برخه کې دی. ښوونکي او استاذان باید طالب العلمانو او زده کوونکو ته نه یوازې هغه علم او مهارتونه ور زده کړي چې د خپلې زده کړې په بهیر کې ورته اړتیا لري، بلکې د تعلیم په برخه کې باید د نوښت او ځیرکتیا هڅونه هم وکړي. ښوونکي باید د خپل تدریس بڼه داسې تنظیم کړي چې طالب العلمان او زده کوونکي په فعاله توګه په کې برخه واخلي، د درس په منځ کې پوښتنې وکړي او د خپل نظر څرګندولو ته وده ورکړي.

همدارنګه، ښوونکي او استاذان باید د طالب العلمانو او زده کوونکو زده کړې او پرمختګ ته ډېر پام وکړي او د هغوی ورتیاوې په سمه توګه وارزوي. استاذان او ښوونکي باید د طالب العلمانو او زده کوونکو اړتیاوې په پام کې ونیسي او د هغوی فردي استعدادونو ته پراختیا ورکړي.

همدارنګه د زده کړې په بهیر کې قدرمن استاذان او ښوونکي باید د زده کوونکو شخصیتي او اخلاقي روزنې ته هم پوره پاملرنه وکړي. چې په دې برخه کې استاذان او ښوونکی نه یوازې د علمي موادو په تدریس بسنه وکړي، بلکې هغه ارزښتونه او کړنلارې هم طالب العلمانو او زده کوونکو ته ور زده کړي چې د ښه او نېک انسان جوړولو لپاره اړین دي. استاذان او ښوونکي باید طالب العلمانو او زده کوونکو ته د رېښتینوالی، مرستې، دینداری، عدل او انصاف، او نورو اخلاقي ارزښتونو په اړه زده کړه ورکړي. ددې لپاره چې ښوونکي خپل هدف ته ورسیږي، باید په خپل چلند کې هم د دې اخلاقو د تطبیق نمونې وړاندې کړي. له دې سر بېره ښاغلي استاذان او ښوونکي د طالب العلمانو او زده کوونکو ذهني او رواني مرسته هم وکړي په دې معنا چې استاذان او ښوونکي باید طالب العلمانو او زده کوونکو رواني او ذهني پرمختګ ته هم پام وکړي. ښوونکی باید د هر زده کوونکي اړتیاوې وپېژني، د دوی رواني او ذهني وضعیت ته پام وکړي او هغوی ته د ستونزو حل لارې وړاندې کړي. همدارنګه، ښوونکي او استاذان باید طالب العلمانو او زده کوونکو اعتماد تر لاسه کړي او د هغوی لپاره په ټولګي او ښوونځي کې داسې چاپیریال را منځ ته کړي چې زده کوونکي وکولای شي په ډاډه زړه خپلې ستونزې له استاذانو او ښوونکو سره شریکې کړي.

د زده کړې په بهیر کې د طالب العلمانو او زده کوونکو په وړاندې د استاذانو او ښوونکو بل مهم مسئولیت د زده کړو د چاپیریال د نظم ساتنه ده. د ټولګي نظم او انضباط نه یوازې د زده کړې په بهیر کې بلکه دا د طالب العلمانو او زده کوونکو لپاره د اغېزمنې زده کړې، ځان جوړونې او د دوی ذهني ودې لپاره اړین دی. د استاذانو او ښوونکو رول په دې برخه کې خورا ارزښتناک دی.

د طالب العلمانو او زده کوونکو په روزنه کې د استاذانو او ښوونکو مسئولیت یوازې د علمي تدریس پورې نه محدودیږي بلکې ښوونکي باید د طالب العلمانو او زده کوونکو د شخصیت جوړونې، ذهني پرمختګ، اخلاقي روزنې او د ښوونې چاپیریال د ښه کولو لپاره هم هڅې وکړي. د ښوونکي کار یو ستر مسؤلیت دی، چې د طالب العلمانو او زده کوونکو د ښه راتلونکي جوړولو لپاره ضروري دی.

نو قدرمنو استاذانو او ښوونکو! راځی چې په اسلامي او ملي روحیه د هېواد د بچیانو په سالمه روزنه کې له هېڅ راز هلو ځلو ډډه ونه کړو تر څو مو په راتلونکې کې هېواد د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې و شمېرل شي. د پوهنې وزارت ژمن دی چې د هېواد بچیانو ته د خپل توان تر حده د زده کړې مناسب او خوندي چاپیریال را منځ ته کړي تر څو مو ګران طالب العلمان او زده کوونکي وکولای شي په ښه توګه زده کړه وکړي.

# پایان سیمینار اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی برای شماری از رؤسا و آمرین وزارت ها

سیمینار پنج روزه تحت عنوان «نظارت و مراقبت» که به ابتکار اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی برگزار شده بود، با موفقیت به پایان رسید. این برنامه آموزشی برای ۱۸۰ تن از رؤسا و آمرین وزارت‌خانه‌ها و ادارات امارتی در نظر گرفته شده بود.

در این سیمینار به نماینده گی وزارت معارف، مفتی حبیب‌الله قتاده نوری، رئیس نشرات و روابط عامه، مولوی صدرالدین سعد، رئیس مالی و حسابداری، مولوي عبدالرزاق صدیق، رئیس مدارس و دارالحفاظ‌ها و مولوی محمدابراهیم عمری رئیس انکشاف مسلکی معلمین حضور داشتند.

به گفته مسئولان، هدف از برگزاری این سیمینار، تقویت روند نظارت و مراقبت بر امور اداری، ایجاد شفافیت در وظایف محوله، آشنایی بیشتر با لایحهٔ وظایف، ارتقای ظرفیت‌های کاری و مسلکی کارمندان خدمات ملکی، و تحکیم هماهنگی میان وزارت‌خانه‌ها و ادارات دولتی بوده است. در مراسم اختتامیه، مولوی صدرالدین سعد، رئیس مالی و حسابداری وزارت معارف، ضمن قدردانی از برگزاری این برنامه گفت: برگزاری چنین نشست‌های علمی نه تنها در شفاف سازی امور اداری مؤثر است، بلکه موجب تقویت توانمندی‌های کاری کارمندان می‌شود تا از این مهارت‌ها در محیط کاری خویش استفاده نمایند.

این سیمینار با قرائت دعائیه از سوی مفتی حبیب‌الله قتاده نوری، رئیس نشرات و روابط عامه وزارت معارف، به پایان رسید.

### گذاشتن سنگ تهداب...

مردم عنوان کرد. همچنان سرپرست وزارت معارف کشور در این سفر با الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی رئیس، مسئولان و کارمندان بخش های کلیدی ریاست معارف ولایت مذکور دیدار و در مورد وضعیت تعلیم و تربیه در ولایت غزنی با هم گفتگو و تبادل نظر نمودند. نخست رئیس معارف ولایت یاد شده تشریف آوری سرپرست وزارت معارف و هیئت همراه شان را خیر مقدم گفته و ضمن ارائه راپور کوتاه از کار و فعالیت آن ریاست، برخی مشکلات و پیشنهادات ریاست معارف مربوطه شان را با رهبری این وزارت شریک نمودند.

### د پوهنې وزارت سرپرست هېواد ته...

په خپله علمي وینا کې د علم او پوهې د ارزښت په تړاو مفصلې خبرې وکړې.

نوموړي د خپلو خبرو پر دوام وویل: د افغانستان اسلامي امارت د حاکمیت وروسته په ټول هېواد کې د زده‌کړې لپاره بشپړ امن او خوندي چاپېریال رامنځته شوی دی.

هغه په خپل پیغام کې له راستنو شوو هېوادوالو وغوښتل چې خپل ماشومان مدارسو او ښوونځیو ته واستوي.

همدارنګه په دې غونډه کې د کابل ښار پوهنې رئیس قاري عبدالباسط حقاني هم د هېواد په پرمختګ او د ټولنې په هوساینه کې د ښوونې او روزنې د ارزښت په اړه خبرې وکړې او ګډونوالو ته یې د آزموینې د بشپړې روڼتیا ډاډ ورکړ.

د یادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت له لوري په تېرو دریو کلونو کې له زرګونو هغه هېوادوالو څخه چې له بهر څخه هېواد ته را ستانه شوي د هغوی د تعلیمي سویې کچې د معلومولو په موخه د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې آزموینه اخیستل شوې او د هغوی د تعلیمي سویې سره سم د ښوونځیو په ټولګیو کې شامل شوي دي چې په دې توګه په زرګونو تنه راستانه شوو هېوادوالو ته د زده کړو زمینه برابره شوې ده او دا لړۍ لا هم دوام لري.

### از ۶۰۰ هموطن بر گشته ...

به مهمانان، اطمینان داد که تمام سهولت‌های لازم آموزشی و تربیتی برای شاگردان بازگشته به کشور فراهم خواهد شد. وی افزود: این مسئولیت ماست تا برای فرزندان کشور زمینه فراگیری تعلیمات اسلامی و عصری را مهیا سازیم.

سپس معین تعلیم و تربیه وزارت معارف سخنرانی کرده و تأکید نمود که امارت اسلامی افغانستان و وزارت معارف متعهد به فراهم سازی امکانات و فرصت‌های تعلیمی برای تمامی کودکان و نوجوانان، به ویژه فرزندان مهاجران بازگشته به کشور می‌باشد. وی خاطر نشان ساخت آمادگی‌های کامل برای ادامه آموزش این هموطنان فراهم شده و از آنان خواست تا در بازسازی کشورعزیزمان افغانستان سهم فعال داشته باشند.

براساس گفته مسئولین، قرار است پس از ارزیابی نتایج امتحان این شاگردان در صنوف یازدهم و دوازدهم مکاتب رسمی جذب شوند.

### کندهار ولایت ته د...

په جلا جلا غونډو کې د افغانستان اسلامي امارت د مشر عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی د فرمانونو، سپارښتنو او دامربالمعروف او نهی عن المنکر له قوانینو یادونه وکړه او له هغوی یې وغوښتل چې د یادو فرمانونو او قوانینو په پلي کولو کې په بشپړه توګه هڅه او په تطبیق کې یې جدي واوسي.

همدارنګه نوموړي د هېواد بچیانو د سالمې ښوونې او روزنې کیفیت پر لاپیاوړتیا ټینګار وکړ.

په همدې حال کې د یادو لېسو مسئولینو او ښوونکو د پوهنې وزارت د مشرتابه له سفر څخه د خوښۍ څرګندولو تر ترڅنګ ډاډ ورکړ چې دوی به د اسلامي نظام د مشرتابه او پوهنې وزارت د رهبرۍ پرېکړې او لارښوونې په بشپړ ډول پلي کړي او د هېواد د نوي نسل د زده کړې په برخه کې به خپلې هڅې په خورا شفقت او بشپړ اهتمام سره لا زیاتې کړي.

د دې لیدنو په پای کې، سیمه ییزو مسئولینو هم د وزارت مشرتابه سره په یاد ولایت کې د ښوونیز بهیر په برخه کې یو لړ نظرونه، وړاندیزونه او ستونزې شریکې کړې، چې د پوهنې وزارت د رهبرۍ له خوا ورسره د حل په برخه کې د همکارۍ ژمنه وشوه.

### هرات ولایت کې د ۲۹ بایه...

د یاد ولایت پوهنې رئیس مولوي رحمت الله جابر د دغو پروژو د عملي کارونو له پیل څخه خوښي څرګنده او ویې ویل: د پورته ذکر شویو پروژو په پرانیستلو سره به په ښوونځیو کې د درسي کیفیت او د زده کړې کچه لاپسې لوړه او زده‌کونکي به وکولی شي، ترڅو په خوندي او غوره ښوونیز چاپیریال کې زده کړې وکړي.

د یادونې وړ ده، چې د یادو پروژو بیارغونې او جوړولو مالي لګښتونه د پوهنې وزارت سره د همکارو ادارو له لوري ورکول کېږي.

### آغاز روند توزیع ...

این وزارت به اشتراک کنندگان محفل خوش آمدید گفته، در مورد توزیع موتر سایکل ها برای آمرین معارف ولایات معلومات همه جانبه ارائه نموده افزود: لله الحمد در ساحه عملی نیز وزارت معارف گام های مبتکرانه برداشته که می توان از آغاز پروسه توزیع وسایط برای آمران معارف ولایات یاد کرد. همچنان نامبرده از مسئولین معارف خواست تا از وسایط یاد شده در اجرای امور رسمی استفاده سالم واعظمی نمایند.

در ادامه سایر سخنرانان هم با اشاره به اهمیت علم در جامعه، گفتند: رهبری وزارت معارف به هدف بلند بردن کیفیت درسی در کشور، شب و روز تلاش نموده و به آن‌ادامه می دهد.

مراسم با قرائت دعائیه از سوی مولوی محمد ابراهیم محمد آمر ترانسپورت ریاست خدمات پایان یافت.

### معرفی رئیس جدید تکنالوژی معلوماتی...

به رئیس جدید، در روشنائی آیات قرآنکریم و احادیث نبوی( صلی الله علیه وسلم)، از مسئولین و کارمندان خواست تا از احکام الله متعال و سخنان اولی الامر خویش اطاعت نموده و با هم برای بهبود هر چه بیشتر رشد و شکوفایی معارف کشور کار کنیم.

متعاقبا رئیس نشرات و روابط عامه وزارت معارف نیز پیرامون موضوع از دیدگاه دین مبین اسلام صحبت های همه جانبه نموده، معرفی رئیس جدید را تبریک گفت و در اجرای وظایف محوله موفقیت های مزید برای شان استدعا نمود.

مجلس با دعائیه از سوی مفتی حبیب‌الله قتاده نوری، رئیس نشرات و روابط عامه وزارت معارف خاتمه یافت.

### د هرات پوهنې ریاست او یو ...

په همدې موخه جوړې شوې غونډې کې، دواړو لورو د متقابلې همکارۍ پر پراختیا ټینګار وکړ او دغه هوکړه یې د علمي او ښوونیزو خدمتونو د پراخولو په لور یو مهم او ارزښتناک ګام وباله.

# اسلام آوردن بلال حبشی رضی الله تعالی عنه و تحمل مشکلات و مصائب

بلال حبشی رضی الله عنه یکی از اصحاب بزرگوار و مؤذن مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم بود. او که در ابتدا غلام یکی از کفار بود، وقتی مشرف به اسلام شد، با انواع شکنجه و آزار روبرو شد. امیه بن خلف، که سرسخت ترین دشمن مسلمانان بود در گرمای شدید و به هنگام نیمروز بر ریگ‌های داغ و سوزان او را می خواباند و بر سینه‌اش سنگ بزرگ می‌نهاد، که بر اثر آن نمی توانست حرکت کند و می گفت: یا باید در همین حال بمیری و یا این که از اسلام دست بکشی، ولی حضرت بلال رضی الله عنه در همین حال ( احد -احد) می‌گفت (یعنی معبود من یکتاست) شب ها او را با زنجیر می بستند و تازیانه می زدند و روزها بر ریگ های داغ می خواباندند تا زخم هایش تازه شوند و از اسلام رو برگرداند و یا در همان حال بمیرد. گاهی امیه بن خلف و گاهی دیگران هر یک از آنها می کوشید تا تمام سعی خود را در شکنجه دادن به کار برد. وقتی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه او را در این حال مشاهده کرد، وی را از صاحبش خریداری و آزاد نمود.

چون عرب های بت پرست، بت های خویش را نیز معبود می دانستند و اسلام در مقابل آنان تعلیم توحید می داد.به همین جهت بر زبان حضرت بلال رضی الله عنه همیشه ورد (احد) (احد) یعنی معبود من یکتاست جاری بود، این نتیجه محبت و عشق واقعی است. ما در ارتباطات و محبت های ظاهری هم می بینیم که اگر با کسی محبت داشته باشیم از گفتن نام او لذت می بریم و همیشه نامش را به زبان می آوریم. با توجه به این که محبت الله تعالی حد و حدودی ندارد و همین محبت است که باعث نجات آدمی در هر دو جهان خواهد شد، به همین دلیل بود که حضرت بلال رضی الله عنه با شکنجه های مختلف روبرو می شد، مشکلات و مشقات سختی را تحمل می کرد، به دست نوجوانان مکه معظمه سپرده می تا آنان ریسمان در گردن وی بیندازند و در کوچه و خیابان ها بگردانند، ولی در این همه حالات همان ( احد ) ( احد ) ( خدا یکی است ، خدا یکی است ) ورد زبانش بود.

پاداش تحمل این شد که به میمنت آن، به عنوان مؤذن بارگاه نبوت انتخاب شد و مسئولیت آذان چه در سفر و چه در حال اقامت بر عهده وی قرار گرفت. بعد از وفات رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تاب ماندن در مدینه منوره را نیاورد و قصد کرد تا باقی زنده گی را در راه جهاد سپری کند، چنان که به همین منظور از مدینه منوره خارج شد و تا مدت زیادی به این شهر باز نگشت.

یک بار حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم را در خواب دید که ایشان فرمودند: ای بلال رضی الله عنه ! این چه بی‌وفایی است که نزد ما نمی آیی؟ وقتی بیدار شد فوراً به سوی مدینه منوره حرکت کرد، حضرت حسن و حضرت حسین رضی الله تعالی عنهم پیشنهاد کردند تا در مدینه منوره آذان گوید. او پیشنهاد آن ها را پذیرفت و شروع به گفت آذان کرد. با شنیدن صدای وی، خاطره عصر زنده گی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم در دل‌ها تجدید شد و زنان خانه نشین هم از خانه های خود بیرون آمدند و شروع به گریه کردند. پس از چند روز اقامت در مدینه منوره از آنجا رخت سفر بست و در سال بیستم هجرت در حوالی دمشق دار فانی را وداع گفت .

**برگفته شده از کتاب حکایات صحابه یا حماسه سازان تاریخ**
**تألیف: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا (رح)**



# اهل معارف

بیا اهل معارف جمله گی ما پاسبان گردیم
برای ملت خود در وطن ما خادمان گردیم
به راه سنت و اسلاف خود کوشیم ای افغان
ز این آزاده گی و حریت ما شادمان گردیم
رسد بر جایگاه علمی اولاد همین کشور
برای سرفرازی ملت خود داعیان گردیم
نباشد زاده غربی ز ما بالا و هم برتر
که باید پیش از جاپان و جرمن آلمان گردیم
زما بلخی و جامی و بل آن بو علی سینا
به دنبال سلف های وطن ما راهیان گردیم
هوای فکره غربی نباشد در محصل ها
به کشت و فصل و خود باید که ما خود باغبان گردیم

**مفتی حبیب الله نوری " قتاده"**
**رئیس نشرات و روابط عامه**

## ضرب المثل ها

- باد آورده را باد می بره
- آن را که حساب پاک است، از محاسبه چه باک است؟
- آشپز که دوتا شد، آش یا شور می‌شه یا بی‌نمک
- از کوزه همان بیرون آید که در اوست
- پایت را به اندازه گلیمت دراز کن
- چاه کن همیشه ته چاه است
- سوزن همه را می‌پوشاند؛ اما خودش لخت است.
- آب را گل آلود می کند که ماهی بگیرد!
- آتش که درگرفت، خشک و تر با هم سوزند!
- آدم خوش معامله، شریک مال مردم است

## زريني كرښې

**زنګ وهلی ذهن**

موږ انسانان یو او ډېرې غلطۍ کوو
تر ټولو لویه غلطي مو دا ده چې په خپلو غلطیو خبر نه یو
خو تر دې هم خطرناکه غلطي بیا دا ده چې پر خپله غلطي ټینګ ودرېږو. دا نو د ذهن زنګ دی
الله تعالی دې دا ډول خلک ( چې خورا ډېر دي) اصلاح کړي.

X X X

**نیکمرغی او بېغمي راز**

آیا غواړئ چې د نورو له شره ځان وساتئ؟ ډېر آسانه او ارزانه طریقه لري: هغه دا چې نور له خپله شره وساته.

X X X

**ایماني ژوند**

که پر جسم باندې د نفس حکومت وي نو دا حیواني ژوند دی.
که پر جسم د عقل حکومت وي نو دا انساني ژوند دي.
خو که پر جسم د قرآنکریم حکومت وي نو دا ایماني ژوند دی.
په اوس عصر کې خو ایماني ژوند کوونکي مطلق اقلیت دی، الله تعالی دې یې مطلق اکثریت کړي.

X X X

**د ژوند لنډیز**

زموږ ژوند د دریو مهمو اصلونو لنډیز دی: لومړی خندا وي چې محوه کېږي، دوهم اوښکې دي چې وچېږي دریم عملونه دي چې پاتې کېږي.

X X X

**الهي غبرګون**

شیخ سعدي (رحمه الله) ویلي دي: ما په خپل ژوند کې د ډېر کوښښ سره سره دوه کسان پیدا نکړل: یو هغه چې د الله جل جلاله په نوم یې صدقه ورکړي وي خو غریب شوی وی، بل هغه چې ظلم یې کړی وي خو د الله جل جلاله له نیولو خلاص شوی وي.

## شرافت انسان

مردی نابینا زیر درخت بر سر دو راهی نشسته بود پادشاهی نزد او آمد، از اسب پیاده شد و ادای احترام کرد و گفت : قربان از چه راهی میتوانم به پایتخت رفت ؟

پس از او وزیر پادشاه نزد مرد نابینا رسید و بدون ادای احترام گفت:

آقا! راهی که به پایتخت می رود کدام است ؟

سپس سربازی نزد نابینا آمد، ضربه ای به سر او زد و پرسید : احمق راهی که به پایتخت می رود کدام است؟

هنگامی که همه آنها مرد نابینا را ترک کردند، او شروع به خندیدن کرد، مرد دیگری که کنار نابینا نشسته بود علت این خنده را از او پرسید.

به چی میخندی؟

نابینا پاسخ داد: اولین مردی که از من سوال کرد پادشاه بود. مرد دوم وزیر او بود و مردم سوم فقط یک نگهبان ساده بود.

مرد با تعجب از نابینا پرسید.

چگونه متوجه شدی؟ مگر تو نابینا نیستی ؟

چگونه فرق بین اینها را متوجه شدی؟

نابینا پاسخ داد: پادشاه از بزرگی خود اطمینان داشت و به همین دلیل ادای احترام کرد.

ولی نگهبان به قدری از حقارت خود رنج می برد که حتی مرا کتک زد.

طرز رفتار هر کس نشانه شخصیت اوست

نه سفیدی بیانگر زیبایی است و نه سیاهی نشانه زشتی

شرافت انسان به اخلاقش است.

Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا:** محمد قسيم «يعقوبي»
**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکي شميره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 300 /2025

# غزني ولايت ته د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین د معین سفر

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق غزني ولايت ته د خپل سفر په لړ کې د ياد ولايت د پوهنې رئيس الحاج مولوي مير نصير احمد حسيني سره وکتل او تر دې کتنې وروسته يې د نومړي په ملتيا په اندړو ولسوالۍ کې د پوهنې آمريت او په همدې ولسوالۍ کې د ملا نوح بابا لېسې له ښوونيز وضعيت څخه هم ليدنه وکړه.

د پوهنې وزارت معين په دغه ليدنه کې د زده کړې کيفيت، د ټولګيو وضعيت او په ياد ښوونځي کې د ښوونکو او زده کونکو حاضري ارزونې ترڅنګ، له ښوونکو او زده کوونکو سره په يوه غونډه کې د درسي کيفيت پر لوړولو او د رسمي نظم په رعايتولو ټينګار وکړ او د ښوونځي له مسئولينو يې وغوښتل چې خپلې دندې په مسلکي توګه، د تقوا او صداقت په پام کې نيولو سره ترسره کړي.


بلخوا د ياد ښوونځي مسئولينو د پوهنې وزارت د کيفيت تضمين معين له ليدنې څخه خوښي څرګنده کړه او ډاډ يې ورکړ چې د نومړي د لارښوونو په پام کې نيولو سره به زده کونکو ته د سالمې او باکيفيته زده کړې برابرولو لپاره خپله ټوله هڅه وکړي.

# کندهار ولايت ته د پوهنې وزارت د سرپرست سفر

د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبيب الله آغا او ورسره مل پلاوي د کندهار ولايت د ښوونيز وضعيت ارزونې او ځينو رسمي چارو ترسره کولو په موخه ياد ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې، د مسئولينو سره د ليدنو سربېره، د ياد ولايت د عظيم الله، محمود طرزي او تجربوي عالي لېسو څخه ليدنه وکړه او د هغوی ښوونيز وضعيت يې و ارزوه.

د پوهنې وزارت سرپرست د يادو لېسو د اداري، تدريسي او چاپېريالي چارو څخه د ليدنې پرمهال، اړوندو مسئولينو او ښوونکو ته...

۲مخ



# هرات ولايت کې د ۲۹ بابه ښوونځيو رغنيزې پروژې پيل شوې

د پوهنې وزارت لخوا د ۸۶ مېليونه ۴۰۷ زره افغانيو په لګښت، د هرات ولايت د ۲۹ بابه ښوونځيو لپاره يو شمېر پروژې، چې پکې د درسي خونو، احاطوي دېوالونو، اړينو ملحقاتو جوړولو او د ښناک پاکو اوبو څاه ګانو کېندل شامل دي، پيل شوې...

۲مخ

# آغاز روند توزیع موترسایکل‌ها برای ریاست‌های معارف ولایات

در محفلی که به مناسبت توزیع ۲۵۰ عراده موتر سایکل برای آمرین ریاست های معارف ولایت ها دایر گردیده بود، استاد حبیب الله خالد رئیس خدمات وزارت معارف، شماری از مسئولان و کارمندان ریاست های معارف ولایات اشتراک داشتند.

نخست رئیس خدمات...

ص۲

# معرفی رئیس جدید تکنالوژی معلوماتی وزارت معارف

به اساس پیشنهاد وزارت معارف و حکم مقام عالی ریاست‌الوزراء امارت اسلامی افغانستان؛ مولوی کفایت الله عمری به حیث رئیس جدید تکنالوژی معلوماتی وزارت معارف معرفی گردید.

در نشستی که به این منظور دایر گردیده بود، الحاج مولوی شهاب الدین ثاقب، رئیس عمومی دفتر مقام وزارت، مفتی حبیب‌الله قتاده نوری، رئیس نشرات و روابط عامه وزارت معارف، شماری از مسئولین ریاست های مرکزی و کارمندان ریاست یاد شده نیز حضور داشتند.

در آغاز رئیس عمومی دفتر مقام وزارت معارف طی سخنانی ضمن عرض تبریک...

۲مخ

# گشایش صنوف سواد آموزی برای کارکنان خدماتی وزارت معارف

ریاست سواد آموزی وزارت معارف به هدف بلند بردن سطح سواد کارمندان خدماتی و اجیران، بست های ۷ و ۸ ریاست های مرکزی این وزارت، کورس های سواد آموزی ایجاد و در مراسمی رسماً به فعالیت آغاز نمود.

در محفل افتتاحیه صنوف یاد شده، الحاج مولوی سخاءالله سعید معین تعلیم و تربیه و کفیل وزارت معارف، الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت، الحاج مولوی شهاب الدین ثاقب رئیس عمومی دفتر مقام، الحاج مولوی عبیدالله آخندزاده رئیس سواد آموزی، مسئولین و کارکنان خدماتی این وزارت اشتراک داشتند.

در این محفل معین تعلیم و تربیه و کفیل وزارت معارف ضمن خوش آمدگویی حاضرین و مهمانان، پیرامون ارزش و اهمیت علم صحبت های مفصل کرده، از شاملان کورس های مذکور خواست که از این فرصت طلایی استفاده اعظمی نمایند تا در آینده برای خود و جامعه مصدر خدمت شوند.




متعاقباً معین تضمین کیفیت وزارت معارف نیز در سخانش در مورد ارزش، مؤثریت، ضرورت تعلیم و اهمیت وقت سخنرانی علمی نموده، اشتراک کننده گان برنامه را متوجه اهداف اساسی و مسئولیت های شان نمود.

در ادامه از سوی مسئولین برای چند تن از اشتراک کننده گان صنوف یاد شده به طور نمونه وسایل درسی از قبیل کتاب سواد آموزی و قرطاسیه توزیع شد و قرار است تا برای بقیه شاملان، مواد یاد شده در صنوف شان توزیع گردد.

# د هرات پوهنې رياست او يو خصوصي پوهنتون ترمنځ د همکارۍ هوکړه لاسليک شو




د هرات ولايت د پوهنې رياست او د جامي خصوصي پوهنتون ترمنځ د دوه اړخيزې همکارۍ هوکړه ليک د ياد ولايت د پوهنې رئيس مولوي رحمت‌الله جابر او د ياد پوهنتون د رئيس ډاکټر مير محمد ايوبي له‌خوا لاسليک شو.

د دې هوکړې اساسي موخې د پوهنې د نظام پياوړتيا، د ښوونځيو د زده‌کوونکو له‌پاره د جامي پوهنتون له لابراتوارونو او نورو امکاناتو څخه ګټه اخيستنه، د ښوونکو او زده‌کوونکو د وړتيا لوړولو لپاره د ورکشاپونو او سيمينارونو جوړول، د رسمي ښوونځيو د زرغون چاپېريال پراختيا کې ګډه همکاري، د پوهنې د کارکوونکو لپاره د جامي طبي روغتون له ځانګړو روغتيايي تخفيفونو څخه ګټه اخيستنه، او د پوهنې کارکوونکو ته د کلنيو تحصيلي سکالرشيپونو ځانګړي کول دي...

۲مخ

# آغاز کار ترمیم یک باب مدرسه در غزنی به هزینه ۳.۵ میلیون افغانی

کار بازسازی و ترمیم مدرسه دینی محمدیه در قریه برکات ولسوالی خواجه عمری ولایت غزنی با هزینه ۳.۵ میلیون افغانی به حمایت مالی یک بنیاد خیریه آغاز شد.

در مراسمی که به همین منظور برگزار گردیده بود، الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی، رئیس معارف ولایت غزنی، در مورد ارزش و اهمیت مدارس دینی در راستای تعلیم اولاد وطن و اصلاح جامعه از منکرات صحبت نموده افزود: این پروژه شامل ترمیم احاطه، طعام‌خانه و سالون جلسات می‌باشد که قرار است در مدت چهار ماه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود تا طلاب مدرسه مذکور بتوانند از آن استفاده کنند.



**گرانو هېوادوالو!**
**راځئ د علم په زده کړې، اسلامي اخلاقو او يو والي سره د خپل هېواد ملي ګټې خوندي کړو.**